


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



داکتر محمد فريد « بزګر »

د نشرنيټه: 1 مارچ 2023 ميلادی

# زه، زما پلار او بختانی صاحب!

هغه څه چې د مرحوم بختاني صاحب په اړه به مو نه وي آوريدلي!

## لومړی برخه:




يادونه:

زما عکس د کونړ د ښوونځي د دورې د وخت دی، د پلار عکس مې کله چې هغه د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځي کې محصل او هم يې په مشرانو جرګه کې د پښتو د پراختيا د مدير په صفت کار کاوه.

عبدالله « بختانی» مې د پلار عبدالقيوم « بزګر» خورا نږدې دوست وو، په ژوند کې خلک ډير ملګري لري، چې په هغو کې يې ډيری د سلام او پوښتنې ملګري وي او يو څو يې ډير نږدې دوستان چې حال احوال يې سره شريک وي چې بختانی صاحب يو له همدې نږدې دوستانو يې وو.

د دوی دوستي ما ته له خورا کوچنیوالي معلومه وه. پلار مي په کابل کي دنده درلوده او موږ په کونړ کي وو. په کونړ کي مي د پلار یو څرمي بکس چي موږ څرمي صُندق باله وو، په دې صندق کې مې د پلار عکسونه، اسناد او نور مهم څېزونه خوندي وو.

موږ به چي هم کله بل کار نه درلود د پلار دا صندوق به مو پرانیست، په هغه کي یو بنډل لیکونه وو چي له لوستلو وروسته بیرته هر یو په خپل پآکټ کي ایښودل شوي وو، دا ټول هغه لیکونه وو چي بختانی صاحب مې د پلار د لیکونه په ځواب کي د هغه وخت له شوروي اتحاد (فکر کړم تاشکند) څخه رالیږلي وو.

په دې لیکونو کي د بختاني صاحب عکسونه هم وو چي د یو نیم لیک سره یې مل له شوري اتحاده رالیږلي وو. دغه لیکونه ما ټول لوستي خو یوه خبره چي مې د هغه وخته په یاد ده، هغه د یو چره ایز ټوپک غوښتنه وه چي زما پلار له بختاني صاحب نه کړې وه، هغه وخت روسي چریز ټوپک په افغانستان کي ډیر مشهور وو. او بختاني صاحب یې په ځواب کې ویلي وو چي محصلینو ته د چره یزو توپکو د راوړلو اجازه نشته.

****

## دوهمه برخه :




یادونه: زما عکس کله چې ما په ننګرهار مجله کي کار کاوه د هغه وخت دی، د پلار عکس مې کله چي په مشرانو جرګه کي د پښتو ژبې د پراختیا مدیر وو.

زموږ کور په کونړ کي کله چي خلقیان په افغانستان حاکم شول، د هغه وخت په اصطلاح مجاهدینو په همهغه لومړیو کلونو کي لوټ کړ، سره له دې چي پلار مې په ۱۳۵۷ کي دولتي کار پرېښود، مشر ورور مې د اخواني په نوم بندي شو، خلقیانو مو ځمکه په دهقانانو وویشله، او په دغه لوټ کې زموږ کوچنی کتابتون، دغه د پلار بکس مې او نور څه مو چي درلودل ټول لادرکه شول.

د ظاهر خان او داود خان په وختو کي به موږ په اوړي کي کله چي به په کونړ کي ښوونځي رخصت شو کابل ته راتلو، یوه ورځ مې مازیګر د پلار سره د هغه ملګري کوټې ته چي د شاه دو شمشیره زیارت اړخ ته د کابل د پخوانیو تعمیرونو په دوهم پوړ کي وه لاړم، چي دا د بختاني صاحب کوټه وه،

هلته مې ورسره پلار خپلې توکې ټکالې کولې او ما د کرکی بهر د کابل سیند او سړک ننداره کوله، د راوتو پر وخت یې یوه دانه نشباتی/ناک راکړ چې په لاره یې وخورم.

کله چې زه د کابل په حبیبې لیسه کې وم، موږ د انګلیسي ژبې امریکایي او هندي استادان درلودل، چې انګلیسي ژبه په دې ښوونځي کې نسبتاً ښه تدریسېده، په یولسم ټولګي کې ووم چې خلقیانو د حکومت واګې تر لاسه کړې.

دغه مهال بختانی صاحب د هېواد اخبار ریس شو، د هېواد اخبار د ریاست لاندې دري مجلې هم خپرېدې چې یوه یې د ننګرهار یوه یې د پکتیا او یوه یې فکر کوم د کندهار په نامه وه. دغه وخت زموږ اقتصادي حالت د بره ذکر شوو لاملونو له کبله ښه نه وو.
یوه ورځ مې پلار د بختاني صاحب دفتر ته ولیږلم چې هلته ورشه د ژباړې لپاره به څه درکړي دا ۱۳۵۷ کال وو، ورغلم هغه ته مې پلار له مخکې ویلي وو.

په انګلیسي ژبې د یوې روسی مجلې نه یې یو دوه قیچي شوې ورقې راکړې او را ته یې وویل چې دا وژباړه اساني دي، د اصل سره یې بیرته ما ته راوړه. د المپیک د لوبو اړوند وو چې یوه چکسلواکی جنۍ په کې اتله شوې وه.
ورقې مې واخیستې خو په ډیره مشکله مې وژباړلې، په څه چې به پوه نه شوم د ځانه به مې یو څه ولیکل، هغه وخت مې نه انګلیسي دومره زده وه چې ژباړه دې وکړای شم او نه مې پښتو لیکل دومره کره وو چې لیکنه یا ژباړه دې په وکړای شم.
اوونۍ وروسته مې ژباړه پرته له اصله بختاني صاحب ته ورکړه، د اصل پوښتنه یې وکړه ورته مې وویل ورکې شوې دي! هغه ژباړه چاپ شوه او ما لومړی حق الزحمه واخیسته!
****

## دریمه برخه :



یادونه: زما عکس د حبیبې د لیسې د وخت دی، د پلار عکس مې د تقاعد د وخت دی

( د ځینو دوستانو په غوښتنه په اصل کې څه زیاتوالی راغی چې د هغه وخت د حالاتو د خبریدو لپاره دی، د اصل کیسې سره ښایي مستقیماً اړیکه و نه لري، خو ځینو ته د هغه وخت د یوې آیینې یا د حالاتو څخه د خبرېدو لپاره په کې ورډیر شوي دي، چې له امله یې له لوستونکو بخښنه غواړم )

د خلقيانو په وخت كه څه هم د حبيبي ليسي درسونه تر يوې اندازې په همهغه پخواني ستېندرد روان وو، خو ځيني نوي استادان چې دومره تكړه نه وو راغلل، ډېر وخت به يې زده كوونكي مظاهرو ته ويستل. په پښو به روان او سره شعارونه به ورسره وو، په لاره به ترې ډېرو پښې سپكولي، تر پل باغ عمومي پورې به يوازې همدا شعار په لاس والا پاتې وو.

د داود خان په وخت د اتم نه نهم ته د كلنۍ ازمويني تر څنګ يې د كانكور ازموينه اخيسته، چا چې به په ساينسي مضامينو ( فزيک، بيولوژي، الجبر، هندسه...) كې ډېرې نمرې وړې وې هغوی به د ساينس ځانګې ته او هغوی چې به يې په اجتماعي مضامينو ( جغرافيه، تاريخ...) كې ډېرې نومرې وړې وې، هغوی به اجتماعياتو ځانګې ته تلل، او هغوی چې به د كانكور په دې ازموينه كې ناكامېدل هغوی به يې مسلكي زده كړو ته ورپيژندل. ما په دغه كانكور كې په ساينسي مضامينو كې ښې نومرې وړې وې نو ساينس ته مې لاره پيدا او د ساينس نه فارغ شوم.

د كانكور كارتونه يې ښوونځي ته راوړل، د كانكور ځای مو د كابل پوليتخنيک وو چې تر دغه وخته مې نه وو ليدلی، موږ دا مهال په خيرخانه مينه كې اوسېدو. د مشر ورور سره مې تر پوليتخنكه لاړم. ښه وو هلته مې ډېر ټولګيوال وو، د ازموينې په كوټه كې مو هم څلور پنځه ټولګيوال وو. د ازموينې لومړی برخه رياضي وه، ما ته نسبتا سخته برخه همدا وه.

پرته د رياضي د يو څو سوالونو چې په شكي ووم، پوه شوم چې لوړې نومرې وړم. نږدې ملګری مې هم را سره په همدې كوټه كې وو، ترې مې پوښتنه وكړه كوم پوهنځی دې غوره كړی دی؟ ويې ويل طب. ما هم طب غوره كړ. بيا يې غږ وكړ نه انجنيری مې كړ، ما هم انجنري كړ. هغه بيرته طب كړی وو خو زما انجنري پاتې شو.

زموږ د كانكور ازموينه هم عجيبه وه، يو خو مو كانكور د دولسم ټولګي د كلنۍ ازموينې مخكې وركړ، بل كانكور ته مو ثبت نام د ښاغلي تركي په وخت كې وشو، د كانكور امتحان مو د ښاغلي امين وخت كې وركړ او نتېجې يې د ښاغلي كارمل وخت كې اعلان شوې.

د شپې يې د كانكور د پايلو اعلان له راډيو وكړ، هغه وخت د كانكور پايلې د حقوقو پوهنځي په ښيښنو ځړېدلې. سهار ورغلم يو ټولګيوال مو چې هلته نږدې اوسېده، لاتين په لاس ولاړ وو، ويې ويل د كابل طب ته كامياب شوی يې، هلته يې ليكلي وو، محمد فريد ولد عبدالقيوم، ليسه يې هم حبيبيه وه، خو د كارت نمبر يې فرق درلود، لږ مخكې د ممتازو محصلينو ليست وو، خپل نوم مې هلته پيدا كړ.

د طب او انجنرۍ مې نومره لوړې وې، نو نوم مې د ممتازو محصلينو په ليست كې وو چې بهر ته يې د زده كړې لپاره استول، موږ ته يې وويل چې بورسونه هند او پولند ته دي. فكر كړم چې د استاد بختانی صاحب زوی عبدالرحيم هم زموږ سره په دې محصلينو كې وو، (كه غلط شوی يم چې اصلاح يې كړم) د انګليسي شهادتنامې يې د درې كلنو نومرو سره راكړې او تګ ته منتظر وو چې څو مياشتې وروسته يې وويل چې بورسونه شوروي ته دي. هره رشته هر پوهنځی چې مو خوښ وي.

دغه وخت نه موږ د شوروي سره په جګړه وو، نه مې خپله زړه كېده نه مې كورنۍ غوښتل او نيمه كورنۍ مو لا د پخوا پېښور ته كډه شوې وه. بهر ته د نه تګ عريضه مې د امتحاناتو كميتې ته وكړه، د پوهنتون رييس د كونړ يو خلقي وو چې ښځه يې زموږ څه لرې خپلوانه وه، كور ته يې سهار وخته د واسطې سره ورغلو فكر كړم په زړو مكرويانو كې يې كور وو. ريس د سهار چای پر مهال را ته وويل: ولې نه ځې؟ ورته مې وويل: ما بورس نه وو انتخاب كړی، كورنۍ ستونزې لرم.

ويي ويل سږکال چي موږ بورس ته ګونډي ملګري نه دي انتخاب کړي ټولو ته مو چانس ورکړی بيا تاسي نازونه کوئ. په هر صورت عريضه يې لاسليک کړه او ويي ويل چي انګليسي شهادتنامه او نومرې به دې بيرته تسليم کړي، چي دا يې هم په عريضه ليکلي وو.

اصول داسي وو چي څوک بورس ته نه تلل هغه به يې لومړي انتخاب ته ورکاوه، چې زما لومړی انتخاب انجنري وه، کله چي انجنری ته ورغلم را ته يې وويل چي دوه درې مياشتي له درسونو تيري شوي، تا کال ته د ناکام محصل په نوم نيسو، که کال ته ناکام شوې ډراپ کيږې.

نو بيا مي عريضه وکړه او بل کال ته د طب محصل شوم، دا کال بيکاره ووم. د بورس نه طب پوهنځي ته په تبديليدو کي راسره استاد عبدالحق ايمل چي د امتحان د کميټي غړی وو، ډيره مرسته وکړه.

****

## ځلورمه برخه:




بيا مي پلار بختاني صاحب ته وليږلم، هغه په ننګرهار مجله کي مقرر کړم (۱۳۵۹). د ننګرهار مجلي دفتر د دولتي مطبعي تر څنګ په مکرويانو کي وو.

يو مسوول مدير چي هاشمي تخلص يې کاوه د ننګرهار (خوږيانو) وو، معاون يې يو ځوان شيخ چي سوچه ږيره يې وه تيموري يې تخلص کاوه وو. تيموري يوازې يو څو ورځې وو، زما هلته د کار دريمه که ځلورمه ورځ وه چي يو مسلمان شوی هندو دفتر ته راغی او ويي ويل چي مسلمان شوی يم، هندوانو شړلی يم که راسره مرسته وکړئ.
تيموري ورته وويل کور دې ړنګ شه په دې وخت کي چي ټول کافران کيږي ته مسلمان شوی يې ځه د کوټې نه اوځه. سبا تيموري له دفتره ورک شو، ويل کېدل چي د هغه وخت خاد وړی دی.

ننګرهار مجله فکر کوم په دريو مياشتو کي يو ځل چاپيده. دغه وخت نه کمپيوټر وو او نه د چاپ داسي ماشينونه، لينوټايپ ماشينونه يې بلل، چې د سربو جوړ شوي حروف به يې سره په لاس يو ځای کول، صفحه به يې ترې جوړوله او بيا به يې په ماشين کي ايښودل او چاپېدل به.

زه په ننګرهار مجله کې د فني غړي په نوم مقرر ووم، زما پښتو لیکل همهغلته کره شول. په پیل کې مې لږې ستونزې درلودې ځکه درس مې په دري لوستی وو، خو په ډېر کم وخت کې مې هر څه زده کړل، مدیر مزې کولې او ټول کار زما تر غاړې شو.

بختاني صاحب سره مې دلته د کاري اړیکو له کبله لیده کاته ډیر وو، که هره ورځ مې نه لیده هفته کې به مو دوه درې ځل حتماً لیدل، نیمګړتیاوې به یې را په ګوته کولې، لیکلو او ژباړلو ته یې هڅولم.
بختاني صاحب لومړی ځل د میافقیرالله جلالبادي کنفرانس ته د کتابونو د ویشلو لپاره ولیږم، چې لومړی ځل مې کانټینټال هوټل له نږدې ولید او لومړی ځل مې په یو ستر کنفرانس کې ګډون وکړ.

د پښتو ژبې د زده کړې او لیکنې لارښود او مربي مې استاد عبدالله بختانی دی. له دغه ستر انسان څخه مې ډیر څه زده کړي دي، د دوستی پالل، پښتو لیکل، مرسته کول، لاس نیوی، ملګرتیا.

بختانی صاحب مو په خیرخانه کې لرې ګاونډی وو، پلار به مې مازیګر چکر د هغوی کور ته ورته، هغوی او که موږ به کله په کور کې سابه سوکړک (هوسانه) پاخه کړي وو، یا به مې یې پلار ته ویل چې ورشي او یا به هغه زموږ کور ته راته.

د هغه زوم مې کوڅه وال او ملګری وو، نو دا بل لامل وو چې سره مو ډیر لیدل، ټول زامن یې زما دوستان وو، خو اوس یې یوازې د عبدالرحمن خدمتګار بختاني سره یو څه په اړیکه کې یم.

وروستی ځل مې د ښاغلي عبدالغفور لیوال صاحب په دفتر دهبوري کابل کې ولیده، ورته مې وویل چې هره ورځ مې زړه غواړي چې درناوي ته مو درشم، را ته یې پخپل انداز وخندل او ویې ویل همدا سبا راشه، داسي نه شي چې بیا نه یم او ته راشي، او همداسي وشو...

****

ډاکټر محمد فرید « بزګر»

بازګشت به صفحه اصلی - [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)